دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

الهی فرمان

ای مؤمنانو! پر تاسو روژې فرض کړي شوي دي لکه چې له تاسونه پرمخکنیو امتونو فرض کړې شوي وه تر څو پرهیزګاران شئ. د روژې ورځې په شمار دي، هر څوک چې له تاسونه په دغو ورځو کې ناروغ شي او یا په سفر کې وي نو په نورو ورځو کې دې دغه پاتې روژې ونیسي. (سورة البقره)

نبوي ارشاد

له حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
روژه او قرآن کریم د قیامت په ورځ د بنده لپاره شفاعت کوي، روژه خپل رب ته وایي: ای ربه! بیشکه ما دغه روژه نیوونکی توله ورځ له خوراک څښاک او دده د نورو خوښي خیزونو څخه منع کړی و، نو ددې په حق کې زما شفاعت ومنه، قرآن کریم خپل رب ته وایي: ای ربه! ما دې د شپې له خوبه بند کړی و تر څو تهجد لمونځونه وکړي او قرآن کریم ولولي نو دده په حق کې زما شفاعت ومنه. نو الله تعالی ددوی دواړو شفاعت پخپل دربار کې مني. (مشکواة)

شهادت دویم کال، ۷۳ مه ګڼه، چهارشنبه ۱۳۸۹ هـ ل د وږی ۱۰ مه د۱۴۳۱ هـ ق د رمضان المبارک ۲۲ مه د۲۰۱۰ م د سپتمبر لومړی

د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د همکارېو تړونونه لاسلیک شول

PROPERTY OF ACKU

د افغانستان د اقتصاد وزیر عبدالهادي ارغندیوال او د ترکمنستان د همکارېو د کمیسیون مشر محمد کوچیف

کابل، رسنی:
د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ د دوشنبې په ورځ په بېلابېلو برخو کې د همکارېو یوولس تړونونه لاسلیک شول، په کابل کې له همدې امله په جوړه شوې غونډه کې د افغانستان له خوا د همکارېو د کمیسیون مشر او د اقتصاد وزیرعبدالهادي ارغندیوال وویل چې دواړه هېوادونه به د دغو تړونونو د عملي کولو لپاره هلې ځلې وکړي.
د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ په لاسلیک شوو تړونونو کې، اقتصادي او سوداګریزې همکارۍ، د ګازو د پایپ لاین او د اورګاډي پټلۍ غځول، پانګه اچوونه، د ټرانسپورت او توریزم پراختیا، د تولیدي موادو د ننداړتونونو جوړول، د ګمرکونو په برخه کې دوه اړخیزه مرسته او د نوري فایبر د شبکې غځول شامل وو.
په دې غونډه چې د دوشنبې په ورځ په کابل کې جوړه شوې وه د افغانستان او ترکمنستان د بېلابېلو وزارتونو او ادارو چارواکو برخه اخیستې وه.
د افغانستان د اقتصاد وزیرعبدالهادي ارغندیوال چې د دې هېواد د همکارېو د کمیسیون مشرې هم پرغاړه لري وویل چې له دوو ورځو بحثونو نه وروسته دواړه خواوې پردې سلا شوي چې د دې تړونونو د عملي کولو لپاره نه سترې کېدونکې هڅې وکړي:
"د همکارېو دا ګډ سند دواړو هېوادونو ته یوه با اعتباره وثیقه او دواړه خواوې یې په عملي کولو مکلفې دي.
د دې همکارېو په عملي کولو باید په جدي توګه عمل وکړو او دواړه لوري باید په منظم ډول یوبل ته معلومات ورکړي اوعملي کېدل یې وڅاري."
افغانستان او ترکمنستان په ۲۰۰۷ میلادي کال کې د همکارېو یومهم تړون لاسلیک کړ چې له مخې یې دواړه هېوادونه دا مهال پراخه اقتصادي او سوداګریزه راکړه ورکړه لري، د دغوهمکارېو لومړنۍ غونډه دوه کاله مخکې د ترکمنستان په مرکزعشق اباد کې وشوه....

پاتې ۴ مخ

برکناری فقیریار منجر به تنش های تازه میان حامد کرزی و واشنگتن شد

وال ستریت ژورنال:
روزنامه وال ستریت ژورنال می نویسد، در حالی که حکومت امریکا ستراتیژی جنگ افغانستان را سه ماه بعد بررسی می کند، تنش های تازه با رییس جمهور کرزی که این بار به علت بر کنار ساختن معاون لوی څارنوال به میان آمده شک و تردید مقامات امریکایی در باره پیروزی مبارزه علیه فساد اداری در افغانستان را افزایش داده است.
بر کنار ساختن ناگهانی فضل احمد فقیریار مقامات امریکایی را غافلگیر نموده و وزارت خارجه امریکا خواستار معلومات در زمینه شده است.
پی جی کروولی سخنگوی وزارت خارجه امریکا گفت، تلاش های را که فقیریار انجام می داد خیلی مهم بود و کسانی که قضایای فساد اداری را پی گیری می کنند باید کار خود را بدون مداخلات سیاسی ادامه دهند، و این چیزی است که ما آن را نظارت می کنیم تا ببینیم که حکومت افغانستان به تعهدات خود در مبارزه علیه فساد اداری تا چه اندازه پابند است.
روزنامه وال ستریت ژورنال می نویسد، در حالی که بسیاری از مقامات امریکایی در رخصتی های تابستانی

بقیه در صفحه ۴

تکتیک بریتانیایی ها در جنوب افغانستان نادرست ثابت شد "بنجامین فریکلی"

خبر گزاری تایمز بریتانیا:
دگر جنرال بنجامین فریکلی یک قوماندان سابق نیرو های امریکایی در جنوب و شرق افغانستان، بالای برخی از تکتیک های نظامی قوماندانان بریتانیایی انتقاد کرده گفته است که آن ها در سال ۲۰۰۶ فشار لازم و کافی را بر طالبان وارد نکردند.
جنرال بنجامین فریکلی در یک مصاحبه، که در روزنامهء تایمز بریتانیا نشر شده، می گوید:
"نیرو های بریتانیایی با این تصور که آن ها مانند ایرلند شمالی با یک جنگ چریکی در افغانستان مقابل خواهند شد، به این کشور اعزام شده بودند."
بنجامین فریکلی که در جریان سال های ۲۰۰۶ و ۲۰۰۷ به حیث قوماندان ارشد عملیاتی نیرو های امریکایی در جنوب و شرق افغانستان ایفای وظیفه می کرد، گفته است:
"به منظور حفاظت از مراکز ولسوالی های نظیر موسی قلعه و سنگین، اعزام گروه های کوچک سربازان توسط بریتانیایی ها یک تکتیک نادرست و خطرناک ثابت شد."
وي می افزاید:
"آن ها تصور می کردند که وضعیت در

افغانستان مانند ایرلند شمالی می باشد. در حالیکه نیرو های نظامی در افغانستان باید

بقیه در صفحه ۴

طالبانو د نړیوالو ځواکونو د قوماندان ادعا چلینج کړه

تاند ویب پاڼه:
د طالبانو تحریک یو ځل بیا په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قومندان په تبلیغاتو تورن کړ او نړیوال ځواکونه یې چلینج کړل چې د حقایقو د مالومولو لپاره خبریالان هغو سیمو ته پربږدي چې پیترایس ادعا کوي د ده ترقوماندې لاندې ځواکونو پکې پرمختګ کړی دی.
په افغانستان کې د نړیوالوځواکونو قومندان په وروستیو کې په خپلو څو مرکو کې ادعا وکړه چې د ده تر قوماندې لاندې ځواکونو د طالبانو د پرمختګ مخه نیولې او له یوشمېر سیمو څخه یې طالبان په شا کړي او لا هم د جګړې انډول د نړیوالو ځواکونو په ګټه د بدلېدو په حال کې دی.
خو د طالبانو ویاند قاري یوسف احمدي پرون په یوه خبرپاڼه کې ،چې په پښتواو انګلیسي ژبو یې رسنیو ته لېږلې،ویلي چې

پاتې ۴ مخ

فضایل و حکمت های روزهٔ ماه مبارک رمضان

صفحه دوم

خپلې رای باید بې اهمیته ونه ګڼو

دریم مخ

مبارزه با مواد مخدر و دستگیری قاچاقبران افزایش یافته است

کابل، رسانه ها:
با آنکه نگرانی ها و انتقادات از نحوه مبارزه با مواد مخدر در افغانستان هم چنان موجود است اما مقامات افغان پیوسته از مبارزه جدی در این راستا سخن می گویند.
جنرال داوود داوود معین مبارزه با مواد مخدر وزارت داخله افغانستان حین حریق مقدار قابل ملاحظه مواد مخدر به روز دوشنبه در کابل گفت که روند مبارزه با مواد مخدر و دستگیری قاچاقبران در این کشور افزایش یافته و این تلاش ها در آینده نیز با جدیت دنبال می گردد.
آقای داوود علاوه کرد که این مواد مخدر

پاتې ۴ مخ

د امریکا د کانګرس غړي له ولسمشر کرزي څخه خپه بېرته خپل هېواد ته ستانه شول

آزادی راډیو:
د امریکا د کانګرس غړیو چې تازه د افغانستان له سفره بېرته واشنګټن ته ستانه شوي دي، له ولسمشر حامد کرزي سره یې خپله کتنه ناراحت کونکې بللې ده. د امریکا د کانګرس یوه ډیموکرات غړي د دوشنبې په ورځ پرافغان ولسمشر انتقاد وکړاو ویې ویل، چې کرزی په خپل حکومت کې د فساد د ریښو د وچولو لپاره هغسې چې لازمه ده کوښښ نه کوي.
د امریکا د کانګرس ډیموکرات غړی ریک لارسن چې تیره اوونۍ یې کابل ته له خپلو درېیو همکارانو سره سفر کړی و او له ولسمشر کرزي سره یې هم لیدلي دي، پرون اسوشیټډ پرېس اژانس ته وویل، چې ده له کرزي سره په دې غونډه کې ښه احساس نه کاوه ځکه چې دی په افغانستان کې د



بقیه در صفحه ۴

په راتلونکو اوونیو کې به د طالبانو پرضد جنګ تېز شي "راسموسن"

تاند ویب پاڼه:
د ناټو ټرون مشرد دوشنبې په ورځ وویل چې د ناټو ترمشرۍ لاندې ځواکونه به په راتلونکو اوونیو کې په افغانستان کې د طالبانو پرضد عملیات سخت کړي.
د ناټو عمومي منشي اندرس فوګ راسموسن د دوشنبې په ورځ د ډنمارک د تلویزیون دوهم خبري چاینل ته په مرکه کې وویل: "زه د امریکا له پوځي مشرانو سره په دې برخه کې د نظریووالی لرم چې د طالبانو پرضد باید په راتلونکو اوونیو او میاشتو کې د هغوی په مهمو مرکزونو کې جګړه تېزه شي.
موږ حاضردمه په دېرحساس پړاو کې یو.موږ افغانستان ته نور عسکر لېږلي چې پرطالبانو حملې وکړي. ددې په نتیجه کې به نورې جګړې وشي او له بده مرغه نور کسان به ووژل شي."
راسموسن وویل چې په هلمند او کندهار



پاتې ۴ مخ

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

دریم مخ

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

امن هله راتلی شي چې موږ خپل اسلامي مسؤولیت ترسره کړو

په دې ورځو کې د افغانستان وګړي په دې خبره غږېږي چې که له افغانستانه امریکایي او ناټو ځواکونه ووځي نو افغانان به له کوم سرنوشت او خطرونو سره مخامخ کېږي؟ آیا افغانان به وتوانېږي چې پخپل هېواد کې امنیت ټینګ او له داخلي جګړو څخه مامون شي؟ ددغې پوښتنې او اندیښنې ترڅنګ ډېر افغانان دا هم وايي چې د امریکا په مشرۍ د ناټو غړو هېوادو د پوځیانو په شتون کې هم افغانان پخپل هېواد کې د امن او خوښۍ ورځې نه دي لیدلي نو څکه ددوی شتون او نه شتون د افغانانو په ژوند کې هیڅ اغیز نه لري که موږ افغانان اصل واقعیت ته ځیر شو نو دا خبره په ګوته کېږي چې د افغانانو اصلي مشکل خپل منځي اختلاف او بې باوري ده چې تر ننه پخپل ځای پاتې ده. ترڅو پورې چې دغه بې ځای اختلاف او بې باوري له منځه نه وي تللې په افغانستان کې نه بهرنی پوځونه امن راوستلې شي او نه پخپله افغانان، د امن د ټینګښت او د یو غښتلې مرکزي حکومت د قیام له پاره یواځینی ضمانت او نسخه د هېواد د ټولو پرګنو ترمنځ یووالې او باور ده تر څو پورې چې دغه نسخه تطبیق نه شي په افغانستان کې د امن د راتلو آرمان نه شي ترسره کیدلې، نو څکه افغانانو ته پکار دي چې پر هغه څه خپل ټوله پاملرنه مرتکز کړي چې د امن د راوستو او د یو پیاوړې افغانستان د جوړیدا له پاره بنسټیز رول لري. هر افغان پوهېږي چې څېر ته ناروا اختلاف، جګړې، حسد او تیرې وي هلته د امن جنازه وتلې وي او هر لورې بدامنۍ خپلې وزرې خورې کړې وي. امن او جنګ دواړه پخپلو کې د اور او اوبو مثال لري چې یو ځای نه شي پاتې کیدلې. افغانان به له دغو دواړو څخه صرف یوه ځان لپاره غوره کوي نه دواړه.

که جنګ خوښوي نو د امن نوم به په خوله نه اخلی او که امن خوښوي نو له جنګ څخه به د خنزیر د غوښې په څېر کلکه ډډه کوي. جنګ هم زموږ په واک کې دی او امن هم، دا زموږ ارادو او نیتونو پورې اړه لري چې کوم یو ځانو لپاره غوره کوو.

موږ افغانان باید په دې واقعیت ځان پوه کړو چې د انسان اصلي ضرورت امن دی نه جنګ د اسلام په سپیڅلی دین کې د جنګ جواز یواځې او یواځې د امنیت د تأمین لپاره ورکول شویدې او بس، یعنې امن د انساني ټولنې له پاره هغه ضروري څیز دی چې که دهغه د تأمین له پاره د جنګ ضرورت هم راپیښ شي نو باید ډډه ترینه ونکړی شي. د اسلام په سپیڅلی دین کې د انساني ټولنې له پاره امن ته مرکزي اهمیت ورکول شوې نه جنګ ته، لکه څرنګه چې د انسان بدن ته روغتیا ضروري ده. او د ناروغۍ په صورت کې ورته د درملنې حکم شویدې همداسې د. انساني ټولنې د ودې او خوشالۍ له پاره د امن ضرورت دی، هر څوک چې امن خرابول غواړي مسلمانانو ته دهغه په خلاف جنګ ته اجازه ورکول شوې ترڅو مخه یې ونیسي او امنیت ګډوډ نه کړي، همدغه مقدس جنګ ته الله تعالی او دهغه رسول محمد صلی الله علیه وسلم جهاد ویلی دي چې اجر یې له ټولو عبادتونو څخه زیات دی.

د اسلام د سپیڅلې دین لوی مقصد په انساني ټولنه کې د امن تأمینول او د فساد، ظلم، شرک او کفر جرړې ختمول دي موږ افغانان باید دا واقعیت په سر سترګو ومنو چې پخپل هېواد کې د امن د راوستو مسؤولیت زموږ پر غاړه دی. تر څو پورې چې موږ خپل مسؤولیت په سمه توګه ترسره نه کړو او د امن د راوستلو لپاره ربښتونی او له اخلاصه ډکې هلې ځلې په کار وانچوو نو نه پردي پوځونه زموږ دا مشکل حلولې شي او نه هم پخپله له دغه لوی کړاونه خلاصون موندلې شوو.

ښه په دا وي چې موږ پخپله ددغه لوی مشکل دله منځه وړلو له پاره د همت ملاوې وتړو، ټول پخپلو کې سره یو موټي او یو ځان شوو، له هر ډول ناروا او غیر اسلامي اختلافاتو څخه ډډه وکړو، ټول په ګډه د اسلامي نظام د قیام، او د هېواد د پرمختګ او سوکالۍ له پاره نه ستړې کیدونکې هلې ځلې وکړو، له ټولو هغو کړنو څخه په بشپړ اخلاص توبه وباسو چې د اسلام، هېواد او ولس په تاوان وي.

که موږ ټول افغانان په واقعي معنی خپل مسؤولیتونه ترسره کړو او یا هم د ترسره کولو لپاره یې د اخلاص متې راونغاړو نو په پوره باور ویلې شوو چې موږ افغانستان ته په صحیح معنی امن، سوکالی، پرمختګ او خپلواکی ورکولې شوو، لدې اخوا زموږ ټولې هلې ځلې بې ځایه او مثبتې پایلې نه لري. راځئ واقعیتونه ومنو او د حقایقو په رڼا کې خپل اسلامي، اخلاقي او افغاني مسؤولیت ترسره کړو تر څو له موجوده کړاوونو او جنجالونو څخه نجات بیاموموا و د نیکمرغه ژوند خاوندان شوو.

اعزامی

فضایل و حکمت های روزهٔ ماه مبارک رمضان

روزهٔ ماه مبارک رمضان یکی از پنج بنای اسلام بوده و در جمع ارکان دینی، از مهمترین شعایر اسلامی محسوب می گردد، اغلب فضایل و حکمت های روزه تعبدی بوده و دال بر ربوبیت پروردگار متعال می باشد و از سوی دیگر زندگی انفرادی و اجتماعی انسان را تحت الشعاع گرفته و نقش مهمی در تربیت و تزکیه نفس دارد و نیز انسان را وامیدارد تا شکر نعمت های خالقش را ادا سازد.

روزه، تجلی آثار ربوبیت پروردگار در آفاق و انفس می باشد، چنانچه او تعالی سطح زمین را چون سفره گسترانیده شده آفریده که مملو از نعمت های بی شمار می باشد و به گونه آن را ترتیب و تنظیم نموده که در تصور انسان نمی گنجد. خداوند سبحان با گسترانیدن این سفره رنگین، کمال ربوبیت، رحمانیت و رحیمیتش را به نمایش می گذارد. اما انسان در نتیجهٔ غفلت و سیاهی پرده های اسباب، نمی تواند حقیقت آشکاری را که این وضعیت کرهٔ زمین بیانگر آنست، درک نماید. بناءً اکثراً این حقیقت در بوتهٔ فراموشی سپرده می شود، اما به محض فرا رسیدن ماه مبارک رمضان، مسلمانان به مثابهٔ سر بازان آماده جنگ، همه برای عبادت پروردگار شان بسیج می شوند و لحظاتی قبل از افطار، در حالت احضارات نمبر یک قرار می گیرند و منتظر می مانند تا خالق حقیقی فرمان خود را با ندای ملکوتی آذان صادر کند و بگوید: "بنام خدای بزرگ بفرمائید" و بدینگونه آنان را، به سفرهٔ ضیافت و مهمانی اش فرا می خواند. پس مؤمنان با گرفتن روزهٔ ماه مبارک رمضان از رحمت ها و نعمت های بی کران الهی استقبال به عمل می آورند و به ارزش های آن نعمات پی می برند. کسانی که درین آزمایش و عبودیت اشتراک ننموده و به این کرامت رفیع نایل نیامده اند، چقدر برخود ظلم کرده اند؟ !

روزهٔ ماه مبارک رمضان کلیدی است برای ادای شکر حقیقی و خالصانه و حمد و ستایش بزرگی است برای خدای سبحان، زیرا خیلی از انسان ها به دلیل آنکه با فشار و سختی گرسنگی واقعی مواجه نشده اند، بناءً به ارزش و قدر نعمت ها نمی دانند و در مورد حقانیت خالق و بخشایندگی او تعالی توجه و تفکر نمیکنند. مثلاً: کسانی که شکم های شان را تا گلو پر نموده اند، کمتر متوجه می شوند که یک لقمه نان خشک چقدر ارزش دارد و با چه زحمتی حاصل میشود؟ خصوصاً آنهای که از پول های باد آورده حرام و مشبوه، ثروتمند شده اند، به هیچ وجه قدر و قیمت آن را نمی دانند، اما مومن روزه دار به هنگام افطار در می یابد که همین یک پارچه نان خشک، نعمت ارزشمند الهی است و قوه ذائقه اش در هنگام افطار به این حقیقت گواهی می دهد. از این رو در ماه مبارک رمضان، تمامی روزه داران چه غنی و چه فقیر بادرک ارزش این نعمت های الهی به ادای شکر خداوند نایل می گردند، پس امساک انسان در طول روز از خوردن غذا او را در حالتی قرار می دهد که نعمت بودن آب و دانه و خالق آنها را به خوبی درک می کند.

انسان ها از نظر معیشت و امکانات زندگی به مستوی های متفاوت آفریده شده اند، لذا خداوند بزرگ با فرض گردانیدن روزه بر انسان ها، ثروتمندان را به دستگیری مستمندان فرا می خواند، اما بسیاری از ثروتمندان که در رفاه و آسایش به سر می برند، بصورت واقعی آن حالات فقرا را درک کرده نمی توانند تا نسبت به آنها ترحم و دلسوزی نمایند. مگر از خلال گرسنگی و تشنگی ای که در جریان روزه احساس می نمایند، به این حقیقت خوب پی می برند.

نفس انسان می خواهد از محدودهٔ موضوعه شریعت و آزاد باشد و نمی خواهد در مورد خالق نعمت های الهی به تفکر و تعمق بپردازد، به ویژه در هنگام ثروتمندی و اقتدار، غافل و بی پروا بار آمده وچون حیوان نعمت های الهی را از گلو فرو می برد، ولی در جریان روزه داری در هر نفس متوجه می شود و در می یابد که او مالک نعمت ها نیست. لذا بدون اذن مالک حقیقی آن، آنها را خورده نمی تواند، لذا او خود مملوک بوده و آزاد مطلق نیست و بدون اجازه او حتی نمیتواند دستش را به آب دراز کند و بدینگونه غرور جاهلی اش می شکند و حلقه بندگی خدا را به گردن می اندازد و وجیبه شکر الهی را بجا می آورد.

روزه ماه مبارک رمضان، تاثیر به سزایی در تهذیب و پاک سازی نفس اماره دارد، نفس انسان بر اثر غفلت خود را فراموش می کند و بنابر عجز و فقر و کاستی های دیگری که در وجودش نهفته است، نمی بیندو در مورد اینکه تا چه اندازه ناتوان است و آماج مصائب روز گار قرار می گیرد، توجه نمی کند. اما در ماه روزه، غافل ترین و سرکش ترین انسان را نیز متوجه ضعف و عجز و فقرش می سازد و شخص در اثر گرسنگی، تشنگی و حرمان از شهوات، با خود می اندیشد، نیازمندی معده اش را حس می کند و بدین ترتیب به میزان ضعف و نیازش به رحمت و رأفت بی حساب الهی پی می برد و همین انگیزه باعث می شود که انسان، طغیان و تکبر را کنار گذاشته و به درگاه انابت پروردگار رو بیاورد.

قران کریم در ماه خجسته رمضان نازل گردیده است، غرض استقبال شایسته ازین کتاب آسمانی و مقدس و ارجگذاری به آن، انسان باید خود را از نیاز های پست نفسانی دور نگهداشته وبکارهای پلید و مهمل دست نیالاید و با ترک کردن خورد و نوش، حالت روحانی فرشتگان را به خود بگیرد و همواره زمان نزول قرآن را بیاد داشته ویاد و خاطره اش را زنده و گرامی دارد. برای نایل شدن به این منزلت والا، به قرائت قرآن بپردازد وبه الفاظ و معانی آن توجه کند وچنان به پیام های آن از دل و جان گوش فرا دهد تو گویی همین اکنون جبرائیل (ع) آن را زمزمه می کند. باتصور همچو صحنه هایی در ذهن، جهان اسلام به مثابه مسجدی در می آید که در هر گوشه و کنار آن مسلمانان آیات قرآن را زمزمه می کنند و این گفته مصداق عملی پیدا می کند که ماه رمضان، بهار قرآن است.

روزه ماه مبارک رمضان از لحاظ ارتباطش با کسب و کار انسان که جهت کشت وتجارت اخروی به دنیا آمده است. حاوی این حکمت است که ثواب اعمال در ماه مبارک رمضان چندین برابر می گردد و حتی به یک عمل هزار ثواب داده می شود، پس معلوم است که در برابر هر حرف قرآن ده ثواب داده میشود و هر عمل خوب، ده نیکی محسوب می گردد. چنانچه در حدیث آمده است هر عمل ده میوه جنت را به ارمغان می آورد، پس در ماه رمضان تلاوت واستماع هر حرف قرآن بجای ده میوه، هزار میوه اخروی رابه بار می نشاند و هر حرفی از آیات قرآن باب جدیدی را بر روی هزاران نیکی می گشاید:

مفیدیت دیگر روزه، به زنده گی شخصی انسان تعلق می گیرد، چنانچه روزه، طبیب درد های جسمی و روانی انسان به شمار میرود. زیرا فواید پرهیز و امساک اعم از خورد و نوش و شهوت از نظر طبابت و علم الحیات ثابت و مسلم است، زیرا هر گاه نفس انسان بطور آزاد و افراطی، راه خورد ونوش را در پیش بگیرد، سبب بروز بیماری ها و اضرار مادی در زندگی شخصی او گشته و حیات معنوی اش را نیز تحت الشعاع قرار می دهد هر گاه انسان هر آنچه را پیش آمد، بخورد و بدون توجه به حلال و حرام بودن و اندازه آن تناول کند. زندگی معنوی اش مسموم و فاسد می گردد و سر انجام کاربجایی می کشد که دیگر نفس او از اطاعت قلب و روح، سر برتافته و نافرمانی می کند. مگر در ماه مبارک رمضان نفس بواسطه روزه به نوعی از پرهیز عادت می کند و در راستای تمرین و تدریب اطاعت از اوامر الهی سعی وتلاش بخرج می دهد و به امراضی که از پرساختن معده ناشی می شود. مبتلا نمی گردد. درین حالت قابلیت و استعداد گوش فرادادن به اوامر الهی را کسب می کند که از جانب عقل و شریعت صادر گردیده است.

روزهٔ ماه مبارک رمضان، ضربهٔ کار سازی را بر فرعونیت نفس وارد کرده و شاخ کبرش را می شکند، شان و شوکتش را درهم می کوبد و عجز و ضعف و فقرش را برملا می سازد و او را متوجه معبودش می سازد. چنانچه در روایتی از پیامبر صلی الله علیه وسلم آمده است: خداوند متعال به نفس گفت: "من کیستم وتو چه هستی؟" نفس گفت: من منم و تو، تو هستی. با وجود چشاندن انواع عذاب ها به نفس، بازهم نفس همین جواب را می داد، تا اینکه خداوند جل جلاله او را به گرسنگی عذاب داد و بعد از وی پرسید: "من کیستم و تو چه هستی؟" این بار نفس جواب داد تو پروردگار مهربان من هستی ومن بنده عاجز و ناتوان تو هستم. خلاصه اینکه امساک از خورد و نوش و شهوت و تحمل گرسنگی و تشنگی، جهات معنوی نفس انسان را تقویه می کند و روزه داران با تمثیل این فریضه الهی بر اعضا، جوارح و مشاعر وجود خود، راه کمال را می پیماید و درین سفر به چیز های برمی خورد که در حالات غیر از روزه داری برایش ممکن نمی باشد.

محمد خلیل

خپلې رای باید بې اهمیته ونه ګڼو

لوی الله جل جلاله پخپل سپیڅلی کتاب قرآن کریم کې مؤمنانو ته لارښوونه کوي چې تاسې د نیکی او تقوی په کارونو کې له یو بل سره مرسته وکړئ خو د ګناه او تیری په کارونو کې یو بل سره د مرستې څخه ځانونه وساتئ. د لوی الله جل جلاله دغه لارښونه مسلمانانو ته ددې خبرې اهمیت څرګندوي چې په یوه اسلامي ټولنه کې باید د نیکی او بدی ترمنځ فرق په نظر کې ونیول شي، د نیکی او تقوی کارونو ته وده ورکړی شي او د ګناه او تیری د کارونو په وړاندې کلک خنډونه واچول شي او دیته پرې نښودی شي چې په اسلامي ټولنه کې ګناه او تیری خپل ناوړه سورې وغوړوي.

څرګنده خبره ده چې په انساني ټولنه کې نه نیکی او تقوی پخپله منځ ته راتلی شي او نه هم ګناه او تیری، بلکې ددغو دواړو تر شا د انسانانو لاسونه کار کوي، نیکي هم د انساني اعمالو په وجه وده کوي او بدي هم، له کله نه چې انسان نړۍ ته راغلی نو له همغې ورځی نه د نیکی او بدي کارونه هم تر سترګو شوي دي، پرون هم د نیکی او بدي څواکونو شتون درلود او نن یې هم لري، د دواړو ترمنځ غورځې پرځې او کښمکښونه به د قیامت تر ورځې روان وي.

الله تعالی غواړي چې په انساني ټولنه کې دهغه له حکم سره سم د نیکی او تقوی پلویان غښتلې او د بدی پلویان محوه شي، او دا کار هله شونې کیدای شي چې د الله تعالی رښتوني او مخلص بنده ګان د نیکی او پرهیز ګارې د ودې او خوریدو له پاره له یو بل سره هر اړخیز مرسته او لاس نیوې وکړي، هر چېرته چې د ګناه او تیری پلویان ووینې له هغوی سره له هر ډول مرستې او لاس نیوې څخه په کلکه ځانونه وساتي. لکه څنګه چې لیدل کیږي په افغانستان کې هم د نیکی او بدي قوتونه او لښکرې شتون لري. د بدی او ګناه لښکری په بشپړ توان زیار باسي چې د نیکی او تقوی لارې د ګناه او بدي پر څواکمنولو کمزورې او یا هم بالکل له منځه یوسي، هغوی خپل دغه شوم غرض ته د رسیدو لپاره له هرې لارې او وسیلې څخه کار اخلي، له دغو لارو او وسایلو څخه یوه لاره د انتخاباتو له لارې د ولسي جرګې پارلمان ته د ځانونو رسولو لاره هم ده. موږ پخپلو غړیدلو سترګو وینو چې پارلماني ټاکنو کې هغو کسانو هم خپل ځانونه کاندید کړي دي چې ښه ماضي او ښه شهرت نه لري، ټول عمرونه یې د ګناه او بدي د ودې لپاره وقف کړي دي، د اسلام د سپیڅلې نظام او حاکمیت پر ځای نور نظامونه حاکمول غواړي له هېواد او ولس سره یې جفا له هیچا پټه نه ده، له خپل ولس خاوره، عقیده او استقلال سره یې خیانت کړیدی، د رنګ، ژبې، نسل او سمتونو تعصب ته یې پراخه لمنه وهلې او وهي یې. د افغانانو د اسلامي فرهنګ، تهذیب، غیرت او اخلاقو دښمنان دي پخپل هېواد کې د پردیو فرهنګ، عقیده، تهذیب او رسوم رواجول غواړي، د ښځو د حقوقو تر عنوان لاندې د پاک لمنو او با عفتو افغاني خویندو میندو د عفت او حیا جنازه وباسي، ډم توب، بربنډ رقص، بې حیایي او فحش کارونو ته وده ورکول غواړي. دا عناصر ښه په څرګنده ډول لګیا دي خپل فعالیتونه پرمخ وړي، داسې څېرې له هیچا پټې نه دي چې پیژندل یې ګران وي، هر څوک یې ښه پیژني چې څوک څومره په اوبو کې دی.

له اسلام او ایمان سره تړاو لرونکي مسلمانان چې پخپل هېواد کې د نیکی او تقوی څواکونه څواک منول غواړي هغوی ته پکار دي چې ټول نزاکتونه او حساسیتونه په نظر کې ونیسي د هیڅ ډول غفلت ښکار نشي، د هر چا شخصیت ښه په دقت سره وڅیړي دهغه ماضي او حال ته وګوري، دهغه عقیده او نظریه مطالعه کړي، هر هغه څوک چې د نیکی او تقوی له لارې چپ وي، د ګناه او بدي پلوي وي هغه ته خپله رأی وانچوي او په دې توګه د بدی له لارویو سره د مرستې د لوی جرم مرتکب نه شي. رأی اچول په حقیقت کې د هر افغان د ایمان او عقیدی امتحان ورکول دي، هر هغه افغان چې له څه غور او فکر پرته خپله رأی اچوي او یا هم د چا د ښه او بد شخصیت ته کتلو پرته د پیسو او یا هم د قوم ژبې او سمت په خاطر خپل رأی ورکوي هغه اصلاً له خپل ایمان، عقیده، خاوره او ملت سره خیانت کوي.

هر متعهد افغان مسلمان باید خپله رأی بې اهمیته ونه ګڼي، د رأی پاڼه پخپل ځای دومره با اهمیته او معتبره ده چې ددې په زور کولې شي د خپل هېواد سرنوشت ته مثبت بدلون ورکړي او د بدي او ګناه پلویان کمزورې او بې اثره کړي. هر څوک چې د خپلې رأی په اهمیت پوه نه شي هغه په حقیقت کې پخپل مسؤولیت او سرنوشت نه دی پوه شوې.

که افغانان واقعاً غواړي چې پخپل هېواد کې یو مستحکم او له هر ډول فساد نه خالي حکومت رامنځ ته کړي، پارلمان ته نیک او پرهیز ګار اشخاص ولیږي نو دا دهغوی لپاره یو طلایی چانس دی، نه ښایی خپل دغه طلایی چانس له لاسه ورکړي. د الله تعالی د حکم په مطابق د نیکو او پرهیز ګارو اشخاصو ته د خپلو رایو په ورکولو خپل اسلامي مسؤولیت ترسره او ولسي جرګې ته یې واستوي. تر څو د اسلام خاورې او ملت لپاره د خدمت مصدر وګرځي.

(وما علینا الا البلاغ)

عبیدالله صافی

روژه دځه له پاره؟

د محمد صلی الله علیه وسلم مبارک ارشاد دی چې کله د روژې میاشت داخل شي نو د جنت دروازی خلاصی، د جهنم دروازې بندی، او سرکش شیطانان په زنځیرونو وتړل شي. (بخاری، مسلم)

که د محمد صلی الله علیه وسلم پر دغه حدیث ژور غور او فکر وکړې شي نو موږ ته دا حقیقت په ګوته کیږي چې د روژې میاشت هر یو مسلمان ته د خپل ځان د احتساب او پلټنې ته بلنه ورکوي تر څو وګوري چې هغه پخپل ایمان او عقیده کې کره دی او که کوټه؟

د روژې له میاشتې پرته په نورو میاشتو کې خو موږ د خپلو ګناهونو پړه پر شیطانانو اچوو او وایو چې شیطان مو دوکه کوي. خو د روژې په میاشت کې زموږ دغه حیله او بهانه بالکل بندیږي، شیطانان په زنځیرونو کې تړل کیږي، ټوله میاشت د الله تعالی د رحمتونو او بخښنو باران وي، د نیکی لپاره ټولې لارې خلاصې وي، هر رښتونی مسلمان کولې شي چې د الله تعالی خوښې ترلاسه او ابدي نجات ترلاسه کړي.

د روژې میاشت هر مسلمان ته د خپل ایمان او اسلام د تللو یوه تله ده، هغه داسې چې که هغه د روژې په میاشت کې هم د ګناه په کارونو کې بوخت وي، نه ژبه کنترولوي او نه لاسونه او پښې، نه د رشوت له اخستلو څخه په شاکیږي او نه هم له ټګی او خیانت نه، نو هغه دی په دې واقعیت پوه شي چې دې پخپله شیطان ګرځیدلې دی څکه چې الله جل جلاله هغه انسان ته هم شیطان ویلي دي چې هغه د الله له حکمونو څخه بغاوت او د حلال او حرام ترمنځ توپیر نه کوي.

په قرآن کریم کې د شیطان لفظ له الله نه باغی جن او انسان دواړو لپاره استعمال شوې دی، او فرمایلی یې دي چې جني او انسي شیطانان پخپلو کې یو بل ته خبری رسوي.

هغه مسلمانان چې د روژې په میاشت کې پخپل ځان کې کوم خاص توپیر نه محسوسوي د تقوی او پرهیز ګاری لاره نه نیسي هغوی واقعاً د الله له رحم عاطفی او بخښنې څخه بې برخې دي روژه تر هغه یو مسلمان ته څه ګټه نشي رسولې تر څو چې د روژې ټول ارکان او شرایط پر ځان لازم ونه ګرځوي.

له حضرت ابی هریره رضی الله عنه نه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

ډېر روژه نیوونکي داسې دي چې له تندې ګاللو پرته هیڅ ګټه ورته په لاس نه ورځي.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم په مختلفو زاویو د روژې اصل مقصد په لور د خلکو پاملرنه اړولې ده او په دې خبره یې پوه کړي دي چې د روژې له اصل مقصد نه د غفلت په صورت کې یواځې د لوږې او تندې له ګاللو پرته بل هیڅ ګټه نه شي ترلاسه کولې. لکه چې دهغه صلی الله علیه وسلم دغه لاندیني حدیث په دې خبره ښه دلالت کوي:

هر چا چې د روژې په میاشت کې دروغ ویل او پر هغه عمل کول پرې نښود نو الله تعالی دهغه د خوراک څښاک بندولو ته هیڅ اړتیا نلري.

له دغه حدیث شریف نه ثابت شو چې یواځې پر ځان خوراک څښاک بندول عبادت نه دی بلکې دا د اصل عبادت یوه ذریعه ده، اصل عبادت دادی چې د الله له ویرې د الله د قانون مخالفت ونکړی شي، د الهی محبت په خاطر هغه کار ته په ډېره مینه وړاندې شي چې دهغه جل جلاله خوښ وي. له دغه اصل عبادت نه چې هر څوک غافل پاتې شو هغه خپل ځان ته صرف د خوراک څښاک د بندولو په وجه تکلیف ورکړیدی او بس.

د روژې د اصل مقصد په طرف محمد صلی الله علیه وسلم داسې لارښوونه کړیده:

هر چا چې د ایمان او احتساب په مقصد روژه ونیوه دهغه ټول مخکیني ګناهونه بخښل کیږي. دلته د ایمان مطلب دا دی چې د الله په اړه مسلمان څه عقیده لري هغه یې په ذهن کې تازه او ثابته وي، او د احتساب مطلب دادی چې انسان یواځې د یو الله د خوښې غوښتونکې وي، هر وخت پر خپلو خیالاتو او کړنو نظر واچوي چې چېرته د الله د خوښې په خلاف خو ګام نه ږدي؟

اوس نو راځئ د محمد صلی الله علیه وسلم ددغو پورتنیو ارشاداتو په رڼا کې خپلو روژه ته وګورو چې آیا موږ واقعاً د روژې دهغه معیار خیال ساتلی دی چې الله او دهغه رسول موږ ته په ګوته کړیدي؟ آیا موږ د روژې هغه حقوق پر ځای کړیدي چې دهغه له کبله یوه روژه نیوونکی مسلمان د تقوی اصلي هدف او مقصد ترلاسه کوي؟

ډېر افسوس چې موږ زیاتره مسلمانان د روژې په اصل مقصد نه یو پوه شوې او صرف په دې مو بسنه کړی ده چې له پیشلمی نه تر ماښامه پورې د خوراک څښاک نه ډډه کوو او همدیته روژه وایو، په داسې حال کې چې له دې سره نور ډېر کارونه هم شته چې له هغو نه هم په بشپړ ډول پرهیز پکار دی.

الله دې وکړي د روژې ټول ارکان او شرایط پوره کړو او د الله جل جلاله د بخښنې او مهربانۍ وړ وګرځو.

افغانستان د نړۍ والو رسنیو په هنداره کې

نړیوالو ورځپاڼو په افغانستان کې د لوی څارنوال د مرستیال پرګوښه کولو او په افغانستان کې د امریکا په ستراتیژۍ مقالې لیکلې. ګارډین ورځپاڼې د ښاغلي فقیریار له قوله لیکلي، چې پر ده فشار راوړل شوی ترڅو استعفی ورکړي، ځکه ده او ملګرو څارنوالانو یې د ډېرو چارواکو دوسیې تیارې کړې، چې سترې محکمې ته یې وړاندې کړي.

ګارډین:

د ګارډین په وروستی ګڼه کې د افغانستان پرحالاتو تبصره په دې ډول پیل شوې: یوه سابقه لرونکي څارنوال فضل احمد فقیریار ادعا کړې، چې په اداري فساد کې د لاس درلودو په تور د یو شمیر لوړ رتبه چارواکو د دوسیو د څیړلو په خاطر په زور تقاعد کولو ته اړ شوې دې.

په دې کسانو کې هغه د جمهور رییس حامد کرزي د یوه ډیر نږدې همکار ضیا صالحي یادونه هم کړې ده.

څارنوال فضل احمد فقیریار ویلي، چې ده او همکارو څارنوالانو یې په اداري فساد کې د لاس درلودلو په تور د نورو دولتي چارواکو په ضد هم دوسیې برابرې کړې، چې د صالحي قضیه یې مشت نمونه خرواربلل کیږي.

ده ویلي دا ټولې دوسیې د لوی څارنوال محمد اسحق آلکو له خوا ځنډول شوي دي ځکه هغه په مستقیم ډول جمهور ریس ته ځواب ورکوي.

فضل احمد فقیریار ګارډین ته ویلي، هغه تل پر موږ فشار راووست چې د دې ریس یا هغه والي او وزیر په ضد دوسیه وځنډوو او یا به یې ویل چې په دومره لوړه سطحه دوسیه سترې محکمې ته نه شو استولای.

ګارډین لیکي د ښاغلي فقیریار لرې کیدل به له دې درکه چې په افغانستان کې له اداري فساد سره د مبارزې د هڅو کافي ملاتړ نه کیږي، د امریکا اندیښنه لا زیاته کړي.

یوه غربي ډپلوماټ چې د قانون د حاکمیت په اړه



کار کوي ویلي، چې په دې برخه کې د غربي حکومتونو فشارونو کار نه دې ورکړې او ښایي په راتلونکې هم کار ورنه کړي.

دې ډپلوماټ ګارډین ته ویلي، هغو کسانو ته چې په اداري فساد کې ښکیل دي د چا لاس نه رسیږي ځکه د دې لپاره هیڅ سیاسي اراده نه شته.

موږ ته مالومه ده، چې له بهرنیو فشارونو سره، جمهور ریس کرزي هر وخت په دې برخه کې د څارنو مخنیوی کړې.

کرسشن ساینس مانیټور:

کرسشن ساینس مانیټور، د افغانستان پر حالاتو په مقاله کې دلته په مخ په زیاتیدونکې تشدد ته کتنه کړې.

د مقالې په یوه برخه کې راغلي، افغانستان ته د زیاتو امریکایي عسکرو له رسیدو سره تشدد هم زیات شو. اوس په افغانستان کې د امریکایي عسکرو شمیر یولکو ته رسیږي.

د دې زیاتوالي هدف د راتلونکې کال تر دوبې چې جمهور ریس اوباما د امریکایي عسکرو د تدریجي وتلو د پیل لپاره نیټه ټاکلې، د وسله والو طالبانو د تشدد تر کنټرلو لاندې راوستل وو.

په څنګ کې یې د ناټو ځواکونه هم د ولسي جرګې انتخاباتو تر راسیدو دمخه د امنیت د ټینګولو لپاره هڅې کوي.

وسله والو کسانو په دې موده کې پر کاندیدانو او د هغوي د انتخاباتي مبارزو پر کارکونکو حملې کړي دي. د شنبې په ورځ یوه وسله وال په هرات کې کاندید عبدالمنان وواژه.

د یکشنبې په ورځ د هرات ښاریانو د ولسي جرګې لپاره د کاندیدې فوزیه ګیلاني د انتخاباتي مبارزې د ۵ تنو کارکونکو جسدونه وموندل. کرسشن ساینس مانیټور لیکي، د جمهور رئیس د دفتر رئیس واشنګټن پوسټ ته ویلي، ګمان نه کوي چې د طالبانو د ماتولو په برخه کې افغانستان د بریالیتوب په لاره روان دی.

ده ویلي، امریکا باید خپله ستراتیژي بدله کړي او له سره غور وکړي. داودزي واشنګټن پوسټ ته ویلي چې د امریکا او افغانستان د اړیکو د خرابوالي په اړه په مطبوعاتو کې خپریدونکي رپوټونه له وسله والو سره روانه مبارزه متاثره کوي.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي ځانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
داړیکي شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ډیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

قندهار ستالین گراد اتحاد شوروی سابق و یا فلوجه عراق نمی باشد

امریکا، رسانه ها:
ولایت قندهار از آغاز جنگ در افغانستان منطقه نفوذ طالبان و تخته خیز آن ها برای بر گشت به قدرت محسوب شده است. این ولایت شاهد خونبارترین درگیری ها هم بوده است.

در حال حاضر که نیروهای امریکایی و ایتلافی با جنگ سالاران محلی دست و گریبان هستند و بر مراکز شورشیان طالب در باغ های ماین گزاری شده و تاکستان ها هجوم می برند، جنگ قندهار برای ستراتیژی نظامی امریکا در افغانستان فیصله کن و محوری محسوب می شود.

آژانس خبری اسوشیتد پرس در این باره می نویسد:
برخی از نظامیان جنگ قندهار را برای همه افغانستان سرنوشت ساز می دانند.

اما همه با این نظر موافق نبوده می گویند که پیروزی در جنگ قندهار منجر به خاتمه جنگ در سرتاسر افغانستان نمی شود.

آنها می گویند که پیروزی در جنگ قندهار تضمین شده نه می تواند، مشکلات بسیار زیاد وجود دارد و پیروزی در افغانستان به چیزی که در قندهار رخ می دهد وابسته نه بوده بلکه مربوط به تصامیم سیاسی واشنگتن می باشد.

مارک سیگمن یک مامور سابق سی آی ای یا اداره مرکزی استخبارات امریکا که تجربه کار را در منطقه دارد به آژانس خبر رسانی اشوسیتد پرس گفته است که قایل شدن اهمیت بیش از حد به جنگ قندهار ناشی از طرز تفکر نظامی غربی بوده که باشرایط افغانستان هیچ سازگار نیست.

وی می افزاید، اگر امنیت قندهار تحکیم شود باز هم احتمال دارد که جنگ افغانستان در مجموع به ناکامی منجر شود، چون نقش حکومت در افغانستان ضعیف بوده و تسلط حکومت کابل بر ولایات ضعیف می باشد.

آژانس خبررسانی اسوشیتد پرس می افزاید:
در این جای شک نیست که قندهار اهمیت بسزای دارد. شهر قندهار با پنجصد هزار نفوس خود، دومین شهر بزرگ افغانستان محسوب می شود و پایتخت زمامداری طالبان در سابق بوده است.

اسامه بن لادن رهبر شبکه القاعده هنگام حملات یازدهم سپتامبر برامریکا از قندهار به حیث پایگاه استفاده کرده بود و اکنون هم یکی از مناطق حضور قوی شورشیان طالبان در افغانستان می باشد.

تورن جنرال نیک کارتر قوماندان بریتانوی نیروهای ناتو در جنوب افغانستان در این اواخر به خبرنگاران گفت:
«پیروزی در قندهار تاثیر عمده بر تمام منطقه جنوب خواهد داشت. پیشرفت قندهار منجر به پیشرفت های دیگر خواهد شد. قندهار یک موقعیت مقدس روانی نزد پشتون ها دارد.»

اما دیگران به این باورند که قندهار و مناطق اطراف آن توجه نظامیان را بیش ازحد به خود معطوف داشته است، در حالی که شورشیان دست آوردهای در مناطق دیگر هم دارند و جنگ افغانستان به نظر برخی از نظامیان امریکایی باید قریه به قریه و دره به دره به پیش برده شود.

أدمیرال مایک مولن لوی درستیز اردوی امریکا در این اواخر پیش بینی کرد که شورشیان نفوذ خود را به یک سوم ولسوالی های افغانستان گسترش داده اند.

برعلاوه قندهار، مناطق دیگری هم هستند چون منطقه اطراف کابل و مناطق سرحدی که طالبان و شبکه القاعده در آن تمرکز دارند.

قوماندانان نظامی می گویند عملیات قندهار که "همکاری برای قندهار" عنوان شده است، یک عملیات معمولی نبوده بلکه یک موج تهاجمی آهسته می باشد که قوۀ نظامی درآن نقش ثانوی را ایفا می کند.

قراراست بیست وپنج هزار عسکر ناتو وافغان طی این عملیات در شهرقندهار ومناطق اطراف آن مستقر شوند.

تورن جنرال نیک کارترقوماندان بریتانوی نیروهای ناتو درجنوب افغانستان می گوید:
«قندهارستالین گراد شوروی وفلوجۀ عراق نمی باشد، جنگ ما برای حکومت داری سالم ومبارزه علیه، گروهای مافیایی وآشوب گران است. ما زمانی پیروز می شویم که مردم ازیک ادارۀ سالم دولتی برخودار شوند.»

تورن جنرال کارتر می افزاید:
"نیروهای ناتو وافغان درحال حاضردرمناطق غربی شهرقندهار تمرکز دارند تا از ورود جنگجویان ومهاجمان انتحاری به داخل شهر جلوگیری کنند، هشتاد فیصد ولسوالی ارغنداب ازوجود مخالفان تصفیه شده و ماه آینده عملیات درولسوالی ژیری آغاز می شود."

د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ ...

ترکمنستان دا مهال افغانستان ته تیل، ګاز، غنم او داسې نورځیزونه صادروي او له افغانستان څخه هم نوموړي هېواد ته تولیدي مواد په ځانګړي توګه میوه اولاسي صنایع صادرېږي.

خو یوه مهمه موضوع چې په دې وروستیو کې پرې خبرې کیږي هغه د افغانستان له لارې پاکستان اوهند ته د ترکمنستان د ګازو د پایپ لاین پروژه ده چې اقتصادي ارزښت ته یې په کتو سره دواړه هېوادونه یې د ژرعملي کېدو هڅه کوي.

په عین حال کې د ترکمنستان د مالیې وزیر او له افغانستان سره د نوموړي هېواد د همکاریو د کمیسیون مشرانا محمد ګوچیف وویل چې دواړه هېوادونه په اقتصادي او سوداګریزه برخه کې له یوبل سره مهمه مرسته کولای شي اود دوي دا مرسته به د سیمې لپاره هم ډیره مهمه وي:

"او د سوداګریزو او اقتصادي چارو د پراخوالي او د متقابلو ګټو غوښتونکي یو، پاکستان اوهند ته د ګازو د پایپ لاین غځېدل په ترکمنستان اوافغانستان ته هم ډیره ګټه ورسوي.

د برېښنا،اوبواو ترانسپورت په برخو کې هم له یوبل سره مرستې ته چمتو یواو دا چارې باید چټکې شي."

د افغانستان او ترکمنستان د همکاریو د کمیسیونونو مشرانو ژمنه وکړه چې دواړه هېوادونه به له پاکستان او هند سره په تماس کې د افغانستان له لارې نوموړو هېوادونو ته د ګازو د پایپ لاین د غځولو په تخنیکي چارو خبرې چټکې کړي ترڅو دا پروژه ژرعملي شي.

د افغانستان او ترکمنستان ترمنځ سوداګریزه راکړه ورکړه په دې وروستیو کې زیاته شوې او په ۲۰۰۹ میلادي کال کې د تېرو کلونو په مقایسه په کې څه باندې شپږ دیرش فیصده زیاتوالی راغلی دی، خو دواړه هېوادونه هڅه کوي چې دا اندازه نوره هم زیاته شي.

برکناری فقیریار منجر به تنش ...

هستند، موضع گیری رسمی کاملتر واشنگتن در این زمینه به گفته مقامات طول خواهد کشید.

روزنامه می نویسد که مقامات امریکایی در این باره زمینه وسیع برای مانور در اختیار نه دارند چون واشنگتن از مقابله با رهبری افغانستان که بخش حساس خط مشی امریکا در افغانستان را تشکیل می دهد خودداری می کند.

وال ستریت ژورنال می نویسد، افزایش تلفات عساکر امریکایی که از این جمله هفت سرباز روز یکشنبه گذشته در جنوب و شرق افغانستان کشته شدند، مخالفت با جنگ را در آستانه انتخابات ماه نوامبر کانگرس بالخصوص میان خود دموکراتان به رهبری باراک اوباما دامن زده است.

مقامات امریکایی می گویند، شعله ور شدن اختلافات در باره برکناری آقای فقیریار مشکلات روابط با ریس جمهور کرزی را نشان می دهد.

آنها می گویند در حالی که ریس جمهور کرزی به ارتباط مبارزه علیه فساد اداری زیرفشار می باشد در صحبت های خود چه خصوصی باشد یا عام از انتقاد و رویا رویی صرفه نه می کند.

روزنامه وال ستریت ژورنال به نقل از مقامات امریکایی می نویسد که روابط ریس جمهور کرزی و امریکا بعد از مسافرت اخیر وی به واشنگتن بهبود یافت اما این روابط بعد از آن ناگوار شد که ریس جمهور کرزی سعی کرد هیات های را که برای پی گیری فساد اداری در رده های بالاً به حمایت امریکا گماشته شده اند زیر کنترول درآورد.

ریس جمهور اوباما سناتور جان کری را اوایل ماه جاری به کابل فرستاد تا اطمینان همکاری ریس جمهور کرزی را حاصل کند. امامقامات امریکایی بعداً در باره تعهدات ریس جمهور کرزی ابراز شک و تردید نموده برکناری آقای فقیریار را یک برگشت جدی از تعهدات تلقی کردند.

اما ریاست جمهوری افغانستان می گوید که آقای فضل احمد فقیریار که قبلاً به سن تقاعد رسیده بود بنابر مقررات اداری افغانستان متقاعد شده است.

تکتیک بریتانیایی ها در جنوب ...

همیشه در حالت حرکت و تحرک دایمی قرار داشته باشند. چه اگر در یک منطقهء مشخص مستقر شوند، طالبان بالای آن ها حمله می کنند."

دگر جنرال بنجامین فریکلی به روزنامهء تایمز گفته است، بریتانیایی ها در برنامهء بازسازی نیز ناکام شدند، در حالیکه بازسازی می توانست طالبان را ضعیف سازد.

فریکلی این را هم گفت که وی تلاش کرده است تا قوماندان قوای بریتانیا را قانع سازد تا بالای شورشیان فشار وارد کرده، فعالیت های بازسازی را سرعت بخشیده و به وسیلهء آن ساحهء حاکمیت دولت را فراخ تر سازند.

جنرال بنجامین فریکلی می گوید:
"در صورتیکه در افغانستان اقدامات متعدد به صورت همزمان صورت نگیرد، در حقیقت کلوخ ماندن و از آب گذشتن است."

با وصف آن که تعداد نیرو های ایتلاف بین المللی در افغانستان اینک به حدود ۱۵۰ هزار تن نزدیک شده است، طالبان که در سال ۲۰۰۱ از قدرت خلع شدند، در این اواخر فعالیت های شان را در این کشور تشدید بخشیده اند.

اکنون در ولایت هلمند در کنار ۱۰ هزار سرباز بریتانیایی، حدود ۱۰ هزار سرباز امریکایی نیز مستقر می باشند.

طالبانو د نړیوالو ځواکونو ...

پیترایس د دا ډول منظمو تبلیغاتو له لارې پرله پسې هڅه کوي د افغانستان د وضعیت په اړه د نړیوالو په تېره بیا د افغان او امریکایي ولسونو ذهنیتونه اغفال کړي.

امریکایي پوځي چارواکو په وروستیو کې دا هم ویلي وو چې په تېرو درو میاشتو کې په افغانستان کې د ناټو ترمشرۍ لاندې ځواکونو د طالبانو ۳۶۵ قومندانان او سرګروپان وژلي دي.

شېګل مجلې د نړیوالو ځواکونو په قول د پنجشنبې د ورځې په ګڼه کې راپور ورکړ چې د ناټو دې خاص ځواک، چې اکثره امریکایان دي،د مې د اتمې او د اګست د اتمې ترمنځ د کوماندوعملیاتو په ترڅ کې ۳۶۵سخت دریځي وژلي دي.

جنرال پیترایس هم د طالبانو د قومندانانود تلفاتو یادونه کړې او ویلي یې دي چې د طالبانو د نفوذ ساحه یې په وروستیو څو میاشتو کې محدوده کړې ده.

خود طالبانو ویاند قاري یوسف احمدي د پیترایس څرګندوني تبلیغاتي هڅه بولي او وایي : "دافغانستان اسلامي امارت دیادشوي امریکایي جنرال دلوړو ګمراه کوونکو اوتیرایستونکو تبلیغاتو په اړه له وراندې خپل سپیناوی مطبوعاتو ته سپارلی چې دنوموړي دداډول پروپاګند یوازیني موخه دهغې ښکاره ناکامي او ماتې پټول کیدای شي چې همدااوس دامریکایي سرتیرو دمشرپه توګه جنرال پیټریس ورسره مخامخ دی."

طالبان په خپله اعلامیه کې وراندیز کوي : "د دې لپاره چې نړیوالو او هیوادوالو دافغانستان له روان وضعیت څخه یوواقعي برداشت درلودلی وي او د دښمن دداډول په لوړه کچه خوبی اساسه تبلیغاتو له اغیزې خوندې پاته شوي وي دافغانستان اسلامي امارت دربښتیني وضعیت دمطبوعاتي کولو وراندیز کوي ،په داسې شکل چې دنړیوالو او هیوادنیو رسنیو دخبریالانو یو ټیم دې تشکیل شي ،اودهیواد دجنوبي او مرکزي سیمو اوپه خاص ډول دهغوسیمو چې امریکایي جنرال پکې دېر مختګ ادعا کوي، وضعیت دې په خپله وارزوي اوبیادې په افغانستان کې په روانو واقعیتونو مشتمل ، رښتینی اوهراړخیزراپور نړی والوته وراندې کړي ترڅومعلومه شي چې دنوموړي جنرال خبري څومره حقیقت لري."

قاري یوسف احمدي د طالبانو له لوري د خبریالانو امنیت تضیمن ته چمتووالی ښیي او له هغوی سره د پوره همکارۍ ژمنه کوي خو په عین حال کې له نړیوالوځواکونو هم غواړي چې د حقایقو د مالومولو لپاره دې دوی هم د خبریالانو امنیت تضمین کړي.

په راتلونکو اوونیو کې به ...

ولایتونو کې له خپلو مرکزونو څخه د طالبانو د ایستلو لپاره جنګي عملیات د نړیوالوځواکونو د ستراتیژۍ یوه برخه ده.له بده مرغه موږ مجبوره یو چې جګړه تشدید کړو څو افغان امنیتي ځواکونو ته د خپل هیواد د امنیتي چارو مسوولیت وسپارلی شو.

ده وویل چې هیله لري د ناټو په راتلونکې سرمشریزه کې چې د پرتګال په مرکز لیزبون کې جوړیږي ،په دې پرېکړه وشي چې افغان امنیتي ځواکونو ته دې له راتلونکي کاله د خپل هیواد د امنیتي چارو مسوولیت وسپارل شي.

راسموسن په افغانستان کې موجود یولکو شل زره پوځیان د طالبانو د خورور مقاومت د ماتولو لپاره کافي وبلل او ویې ویل چې طالبان له پوځي لارې د جګړې د ګټلو هیڅ چانس نه لري.خو د افغانستان د شخړې حل یوازې پوځي نه دی.ده د افغانستان اوسني حالات د قناعت وړ ونه بلل خو ویې ویل چې یوڅه پرمختګ شوی دی.

ده همداراز وویل: "که ټاکل شوې وي چې په افغانستان کې ثبات راشي څو موږ ووتلای شو، ضروري ده چې د تعلیم، روغتیا او اقتصاد له نظره په دې هیواد کې باثباته ټولنه رامنځته شي."

راسموسن سره له دې چې د ۲۰۱۴ کال په پای کې افغان امنیتي ځواکونو ته د ټولو امنیتي چارو د سپارلو هر کلی وکړ له افغانستانه یې د ټولو نړیوالو قواوو د وتلو په وړاندې خبرداری ورکړ او ویې ویل : "ددې مانا به دا وي چې طالبان بیا راشي.او زموږ ټولې خواری په اوبو لاهو شي."

د آمریکا د کانګرس غړي له ...

پرمختګونو د نشتوالي له کبله ډېر ناهیلی و او دغه غونډه چې یوساعت یې دوام وکړ ورته ډېره خورونکې وه.

ښاغلي لارسن چې د استازیو د جرګې د پوځي خدماتو د کمیټې غړی هم دی وویل، دا مساله ورته ډېره خورونکې وه، چې کرزی د افغانستان د مشکلاتو ملامتي پرنورو اچوله خو پرځان یې هیڅ باک نه راوړ.

ښاغلي لارسن د افغانستان د ولسمشر وینا په دې خبرې خلاصه کړه، چې ښاغلی کرزی په خپل فکرهیڅ اشتباه نه لري.

لارسن وویل خو له دې سره سره د ولسمشر کرزي له دې خبرې سره موافق دی، چې د افغانستان ستونزې له پولې اخوا په پاکستان کې د القاعده او طالبانو له پناه ځایونو څخه سرچینه اخلي.

د ښاغلي لارسن په وینا امریکا په پاکستان کې د وسله والو طالبانو د فعالیتونو د مخنیوي لپاره پرهر مکمنه اقدام لاس پورې کوي او له دې سره جوخت پاکستان هم خپل نژدې متحد بولي.

د هغه په وینا امریکایي ځواکونه د پاکستان اردو ته روزنه ورکوي او له هغوی سره مرسته کوي، چې په څه ډول په هېواد کې د شخړو او د ترورېزم د مخنیوي لپاره هلې ځلې پرمخ یوسي.

افغانستان ته له ښاغلي لارسن سره په دوه ورځنې سفر کې د هغه درې همکاران ډیموکرات براین بیرد او جمهوري غوښتونکی، باب انګلیس او بیل شوستر ملګري وو.

دوی په دې سفر کې په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو له عمومي قوماندان جنرال ډېوېډ پټریوس، د امریکا له سفیر کارل ایکن بیري او نورو امریکایي چارواکو سره وکتل.

ښاغلي لارسن وویل، که څه هم په افغانستان کې یومخ د اداري فساد له منځه وړل ښایي امکان ونه لري خو ښاغلي کرزي ته په کار ده، چې د دې ستونزې د له منځه وړلو لپاره عملي ګامونه پورته کړي.

د لارسن په وینا د امریکا د خلکو حوصله نوره پای ته رسیدلې ده.

لارسن دغه راز وویل، چې د امریکا ولسمشر بارک اوباما له عراق څخه د ځواکونو د ایستلو او افغانستان ته د نورو ځواکونو د لیږلو په خاطر د ستاینې وړ دی.

هغه وویل اوباما د دې لپاره هلې ځلې کوي، چې هرڅومره ژر خپل ځواکونه بېرته امریکا ته راستانه کړي او هم غواړي چې دا ډاډ ترلاسه شي چې افغانستان یوځل بیا د القاعده او نورو تروریستي ډلو په اډې بدل نه شي.

مبارزه با مواد مخدر و دستگیری ...

اخیراً در جریان یک سلسله از عملیات در مناطق مختلف به دست آمده است.

وی افزود که شش تبعه خارجی و ۱۰ تن از کارمندان دولتی به شمول افسران عالی رتبه نظامی نیز در ارتباط به همین قضایا دستگیری گردیده اند.

آقای داوود در بخش از صحبت هایش گفت که در جریان سال جاری توانسته اند پنج شبکه مهم را که از میدان هوایی کابل و سرحدات افغانستان مواد مخدر را به بیرون از این کشور انتقال می دادند از بین ببرند.

معین مبارزه با مواد مخدر وزارت داخله افغانستان به ادامه گفت:
"در قسمت دستگیری مظنونین و از بین بردن لابراتوار های مواد مخدر دهها عملیات راه اندازی شده که از ولایت بدخشان آغاز الی ولایت نیمروز ادامه یافت. که در این عملیات چندین کارخانه مواد مخدر نابود شده است."

این در حالی است که به اساس گزارشها، هنوز هم در افغانستان به پیمانه وسیع کوکنار کشت می شود و به بیرون از این کشور قاچاق می گردد.

از سوی دیگر انتقادات می شود که کار و باریان بزرگ مواد مخدر آزادانه در افغانستان فعالیت دارند و افراد که دستگیری هم می شوند قاچاقبران کوچک اند.

گزارش های هم چنان موجود است که شماری از مقامات بلند پایه دولتی افغانستان نیز در قاچاق مواد مخدر دست دارند.

اما وزارت های داخله و مبارزه با مواد مخدر افغانستان همواره گفته اند که اسناد و شواهدی موجود نیست که ارتباط مقامات عالی رتبه دولتی را با شبکه های مافیایی و کار و باریان مواد مخدر به اثبات برساند.